ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز

شنبه د محرم الحرام ۱۶ مه ۱۴۴۷ ق کال، د چنګاښ ۲۱ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۲ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۸۸ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۵۱ مه، اتمه دوره

مولوی عبدالسلام حنفی:
وضعیت مهاجرین کاملاً تحت کنترول بوده و خدمات بشکل نورمال ادامه دارد

مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزراء و رئیس کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین در کنفرانس خبری که در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت با حضور رسانه ها برگزار شده بود گفت که در این روز ها سیلی از مهاجرین از کشورهای همسایه به خصوص از ایران که روزانه ۳۰هزار تن مهاجر را بصورت اجباری اخراج می کنند، به کشور عودت می کنند و افزایش چشمگیر دارد . وی افزود که در یک ماه پسین یک و نیم میلیون مهاجر از کشور ایران و در مجموع به تعداد ۲ میلیون تن مهاجر به کشور عودت کرده اند و وضعیت مهاجرین کاملاً تحت کنترول بوده و خدمات بشکل نورمال ادامه دارد. وی افزود که خدمات و امتیازات از سوی حکومت امارت اسلامی به شکل کمیته وار برای هر فرد عودت کننده خدمات تعلیمی و تحصیلات عالی، کمیته اشتغال زایی، کمیته کمک های نقدی، کمیته اسکان دایمی و کمیته اجاره دهی زمین و غیره در نظرگرفته شده است که هرکدام شب و روز درخدمت همشهریان عزیز ما قراردارند ... ص۳

د تورغونډۍ - هرات وسپني پټلۍ پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند، ورمه ورځ په ارګ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف سره کتلي دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې دواړو لوریو د سوداګرۍ، ټرانزیټ، وسپني پټلۍ او د بانکي او اقتصادي همکاریو په اړه خبرې کړې دي. ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان اړیکې مثبتې او د پرمختګ ... ۳مخ

د بهرنیو چارو وزیر له خپل قزاقستاني سیال سره پر مهمو موضوعاتو بحث وکړ

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د قزاقستان جمهوریت د بهرنیو چارو له وزیر مرات نورتلیو سره وکتل. یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره څرګنده کړې، چې په دې کتنه کې دواړو لوریو د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیا، اقتصادي همکاریو، سیمه‌ییزو فرصتونو، ټرانزیټي پروژو او د سیاسي تفاهم پر زیاتوالي هر اړخیز بحث وکړ. د هېواد د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان اړوند د قزاقستان جمهوریت د مثبت دریځ قدرداني وکړه او هیله یې څرګنده کړه، چې د سیاسي او اقتصادي تعامل د لا پراختیا په خاطر له رامنځ ته شویو فرصتونو مثبته استفاده وشي. ده زیاته کړې، چې قزاقستان له هغو هېوادونو



څخه دی، چې له پیل راهیسې یې د افغانستان په اړوند رغنده دریځ غوره کړی او اوس یې وخت رارسېدلی چې دا مثبت تعامل په پیاوړو او دوامدارو اوږد مهالو همکاریو بدل شي، تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ باور او شراکت لا پراخ شي. په ورته وخت کې مرات نورتلیو افغانستان ته په لومړي ځل راتګ سره له امنیت ... ۳مخ

مسکو له اسلامي امارت سره همکاریو ته دوام ورکوي

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت مسئولین وايي، چې افغان حکومت د سیمې د امنیت د تامین په ځانګړې توګه له مخدرو توکو سره د مبارزې په برخه کې مهم رول لري او له همدې امله به مسکو له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي. د روسیې بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخاروا یوې غونډې ته ویلي: د مسکو له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندو د افغانستان اوسنیو چارواکو سره د روسیې بشپړ شراکت ته لارې پرانیستې دي.نوموړې وویل: «روسیې تل له افغانستان سره له متقابلو همکاریو، چې د دواړو هېوادونو د ولسونو په ګټه دي ملاتړ کړی او دې کار ته دوام ورکوي. د مسکو وروستۍ

پرېکړې د کابل اوسنیو چارواکو سره د شراکت لارې پرانیستي. د سفیرانو د اعتبارلیکونو وړاندې کول او ترلاسه کول هم د داسې یوې پروسې تأییدي کوي، چې دې وروستیو کلونو کې ټولو ته څرګنده وه.» د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویانده ټینګار کوي، چې هېواد یې اسلامي امارت سره د خبرو په حال کې دی، ترڅو اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ نورې هم پراخې شي ... ۳مخ

حکومت د ۱۷ سکټورونو غوره صادروونکي وستایل

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د یو لړ مراسمو په ترځ کې، د صادراتو ملي ورځ ورمه ورځ په کابل کې ولمانځله.

په دغو مراسمو کې د اسلامي امارت مقاماتو او مسئولینو، په کابل کې د یو شمېر هېوادونو د سفارتونو ډیپلوماتانو، د بېلابېلو خونو او اتحادیو استازو او ګڼ شمېر سوداګرو او پانګوالو ګډون کړی و.

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي وویل، چې د دغو مراسمو د ترسره کولو موخه د هېواد د غوره صادروونکو هڅول دي چې نور هم صادراتو ته تشویق او په هېواد کې د صادراتو فرهنګ پیاوړی شي.

عزیزي زیاته کړه: ((په وروستیو درېیو کلونو کې روسیې، هند او چین ته د افغانستان صادرات ډېر شوي دي. دغه هېوادونه زموږ د صادراتو له ټولو لوی بازارونه دي څو اړخیزو هوکړه لیکونو او سوداګریزو همکاریو له لارې د صادراتو ډېر فرصتونه رامنځته کړي.))

ده د هېواد له صادروونکو څخه

او د صنعت او سوداګرۍ وزارت هڅه کوي چې د دوه اړخیزو او وغوښتل، چې د خپلو تولیداتو کیفیت او معیار ته ... ۳مخ

د امنیتي او تصفیوي چارو د مرکزي کمېسیون غونډه

د امنیتي او تصفیوي چارو د مرکزي کمېسیون نوبتي غونډه د کمېسیون د مرستیال او د کورنیو چارو وزارت د اداري مرستیال ملا رحمت‌الله نجیب په مشرۍ وشوه.په غونډه کې د هېواد پر عمومي امنیتي وضعیت هر اړخیز بحث وشو، روان پرمختګونه وارزول شول او د شته امنیت په اړه ډاډ څرګند شو. د غونډې یوه مهمه موضوع له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکو افغانانو ته د امنیتي ځواکونو د خدماتو څرنګوالی و. ګډونوالو ټینګار وکړ، چې راستنېدونکي هېوادوال باید د اسلامي اخوت او ملي ژمنتیا له مخې په پوره اخلاص، خواخوږۍ ... ۳مخ

د افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وشوې

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر په کابل کې د ایران له سفیر ښاغلي علي رضا بیګدلي سره لیدنه وکړه.په دې لیدنه کې، ایران کې د افغانانو پر وضعیت او له دغه هېواد څخه د راستنېدونکو افغانانو د پیل شوې جوپې په اړه خبرې وشوې.د ناستې په پیل کې د ایران سفیر له اسرائیلو سره په جګړه کې د اسلامي امارت او افغان ولس له دریځه مننه وکړه او دا یې د دواړو ملتونو د

یووالي څرګنده بېلګه یاده کړه. د ایران سفیر د هرات او نیمروز ولایتونو ته د خپل وروستي سفر او له ایراني لوړپوړو چارواکو سره د خپلو لیدنو جزئیات له ښاغلي وزیر سره شریک کړل. ښاغلي بیګدلي وویل، چې د اسلامي امارت ... ۳مخ

لغمان کې د یو ښوونځي ودانۍ بیارغول کېږي

د لغمان ولایت د الینګارولسوالۍ اړوند د لوکاړ د نجونو لیسې ودانۍ د بیا رغولو چارې د نږدې ۲۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت پیل شوې دي. د لغمان د پوهنې ریاست د نشراتو مسئول محب الرحمن مالیار باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د یونیسف اداري او کوار موسسې په مالي ملاتړ د ۱۸۳ زره ۶۳۳.۶ افغانیو په لګښت د یاد ولایت په الینګار ولسوالۍ کې د لوکاړ د نجونو لیسې د ودانۍ د بیا رغولو چارې پیل شوي، چې چارې به یې په دوو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. د یادونې وړ ده، چې د یادې ودانۍ په بیا رغولو سره سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېریال برابرېږي.

د عامې روغتیا وزیر د افغانستان د عصبي جراحانو په لومړۍ کنګره کې ګډون وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي د افغانستان د عصبي جراحانو په لومړۍ کنګره کې ګډون وکړ.په دې کنګره کې، چې موخه یې د عصبي جراحي برخې ته لا زیاته وده ورکول دي، د عامې روغتیا پر وزیر سربېره د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، د افغانستان د عصبي جراحانو ټولنې غړو، د جراحي برخې مرکزي او ولایتي متخصصینو او کورنیو ... ۳مخ

بلخ او جوزجان کې د څه باندې ۲۰۰۰ جریبه ځمکې د دوسیو ارزونه

د عدلیې وزارت د دوو جلا جلا خبرپاڼو په خپرولو سره د بلخ او جوزجان په ولایتونو کې د دی. سرچینې زیاته کړې، چې د بلخ ولایت د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي تخنیکي پلاوي

څه باندې ۲ زره جریبه ځمکو د دوسیو د ارزونې خبر ورکړی په ورستۍ ناسته کې د بلخ ولایت د مرکز مزار شریف ... ۳مخ

افغانستان کې له پولیو سره د مبارزې لپاره د جاپان ۵ میلیونه ډالره مرسته

په کابل کې د جاپان سفیر، تاکایوشي کوروماپا، ویلي چې هېواد یې د افغانستان لپاره د یونیسف دفتر ته ۵ میلیونه ډالره مرسته ورکړې، څو دا بودجه د پولیو یا ګوزڼ ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره وکارول شي. نوموړي دغه مرسته د افغان ماشومانو د روغتیا او هوساینې په برخه کې د جاپان د دوامدار ملاتړ یوه نښه بللې ده. بله خوا، په افغانستان کې د یونیسف د دفتر رئیس د جاپان له دغې مالي مرستې هرکلی کړی او دا کار یې د پولیو ضد واکسین د پوښښ د پراخېدو لپاره یو مهم ګام وباله. ټاکل شوې چې دغه یو کلن پروګرام کې به څه باندې ۱۳ میلیونه ماشومانو ته د پولیو واکسین تطبیق شي.

مسئولین: له تاجکستان څخه افغان کډوال په زور نه ایستل کېږي

د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبه کې د افغان کډوالو د کمېټې مشر مصور بهادري له رسنیو سره په تازه مرکه کې هغه راپورونه رد کړي، چې ګواکې افغان کډوال له دغه هېواده په زور ایستل کېږي. نوموړي ویلي، چې تر اوسه هېڅ افغان کډوال له زور زیاتي یا اخراج څخه شکایت نه دی کړی. بهادري له اسیا-پلس خبري اژانس



سره په مرکه کې ویلي: «تر اوسه هېڅوک زموږ کمیټې ته د ایستلو شکایت لپاره نه دي راغلي.» نوموړي هغه راپورونه بې‌اساسه وبلل چې وايي: تاجکستاني چارواکو افغان پناه‌غوښتونکو ته ۱۵ ورځې وخت ورکړی څو له دغه هېواده ووځي. له دې وړاندې یو شمېر رسنیو راپورونه ورکړل چې تاجکستان افغان کډوالو ته ۱۵ ورځې ضرب الاجل ورکړی، چې له دغه هېواده ووځي.

اقتصادي وده کې د صنعت سکتور اهمیت!!

بې له شکه صنعت د یو هېواد د اقتصادي بنسټ ستنه ده، چې پرمختګ، ځان بسیاینې، کاري فرصتونو، عوایدو او نړیوالې سیالۍ ته د ورتګ اساسي لاره بلل کېږي. د صنعت له ودې پرته د هېواد اقتصاد نه شي کولای چې پر خپلو پښو ودرېږي، نه به د وارداتو پر ځای تولیدات ولري او نه به هم خپل وګړي د کار له لارې باعزته ژوند ته ورسوي. له همدې امله، اسلامي امارت چې د ثبات او اقتصادي ودې په برخه کې رغنده هڅې پیل کړې دي، د صنعت سکتور ته ځانګړې پاملرنه کوي. دا پاملرنه، نه یوازې د دولت له خوا مهمه ده، بلکې د صنعتکارانو، پانګوالو او د ټولنې د نورو قشرونو د فعال ګډون غوښتنه هم لري. په هر هېواد کې صنعتکاران د اقتصادي تحولاتو محوري رول ادا کوي. دوی نه یوازې د تولید فابریکې فعالوي، بلکې د بازار اړتیاوې پوره کوي، واردات راکموي او خلکو ته کار برابروي. افغانستان کې هم همدا قشر د هغه تحول پیل ګڼل کېږي، چې خلکو ته یې هیلې ورکړې، وطن ته یې عاید ور زیات کړی او د هېواد د ثبات لپاره یې بنسټونه جوړ کړي دي. د اسلامي امارت چارواکو د صنعتکارانو هڅونه او ستاینه کړې ده، چې دا په خپله د دولت د ارادې ښکارندویي کوي. یو له مهمو شرطونو څخه چې صنعت پیاوړی کولی شي، امنیت دی. اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې دا ثابته کړه چې امنیت تأمین شوی، پانګوال کولای شي په ډاډه زړه پانګونه وکړي، فابریکې جوړې کړي، تولید زیات او کاري فرصتونه رامنځته کړي. دا بې‌ساري امنیت په افغانستان کې د صنعت د ودې لپاره یو تاریخي فرصت دی. د اسلامي امارت مسئولینو ویلي چې امنیت د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې او حکومت هڅه کوي، د صنعت ودې ته دوامداره پاملرنه وکړي. دا ژمنه تر هغه وخته اغېزمنه ده چې عملي ګامونه واخیستل شي، په ځانګړې ډول، د صنعتکارانو لپاره د تشویقي تګلارو جوړول، د صنعتي پارکونو پراختیا، خامو موادو ته لاسرسی، د برښنا برابرول، د صادراتو اسانې لارې او له بې‌ځایه تعرفو څخه د خلاصون لپاره اقدامات مهم دي. د اسلامي امارت له لورې د صنعتي پارکونو لپاره د ځمکو ځانګړې کول یو مهم اقدام دی. دا پارکونه، نه یوازې د تولیداتو کچه لوړوي، بلکې د بازار موندنې، صادراتو، روزنې او د کار زمینو په برابرولو کې هم بنسټیز رول لري. دا پارکونه به د هېواد د مختلفو سیمو ترمنځ اقتصادي توازن هم رامنځته کړي، ځکه چې د مرکز او ولایتونو ترمنځ د پرمختګ واټن راکمېږي. د صنعتي پارکونو جوړښت باید داسې وي چې عصري معیارونه ولري، د برق، ټرانسپورټ، اوبو، سړکونو او ارتباطي خدماتو اسانتیاوې پکې برابرې وي، ترڅو پانګوال او صنعتکاران تشویق شي چې خپلې فابریکې هلته جوړې کړي. د اسلامي امارت مشر، عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د صنعتي ودې لپاره ځانګړې پاملرنه کړې. دا نه یوازې د صنعت د ارزښت څرګندونه ده، بلکې دا پیغام هم لري، چې افغانستان نور غواړي اقتصادي استقلال ولري. یو هېواد چې خپل خوراک، جامې، درمل، ماشینونه او نور توکي تولید کړي، له بهرنیو مرستو خلاص شي او د خپلو خلکو له لارې خپل بازار بسیا کړي، هغه هېواد پر خپلو پښو ولاړ دی. باور دادی، چې د صنعت سکتور ارزښت یوازې په تولیداتو نه، بلکې د هېواد د اقتصادي ودې، سیاسي ثبات، د خلکو د کار موندنې، د پانګونې د ودې، د صادراتو د زیاتوالي او د ملي افتخار د پیاوړتیا لپاره حیاتي دی. اسلامي امارت چې د امنیت، پانګونې، تولید او همغږۍ لپاره واضحې تګلارې لري، باید د صنعت سکتور لا پراخ کړي. د صنعتي پارکونو جوړول، د غیرفعالو فابریکو بیا فعالول، د صنعتکارانو تشویق، د کاري زمینو برابرول او د خپلو امکاناتو اغېزمن مدیریت هغه اقدامات دي چې افغانستان د اقتصادي ثبات پر لور بیایي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال سره پر ځینو مهمو موضوعاتو خبرې وکړې

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند وړمه ورځ مازدیګر د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مورات نورتلیو په مشرۍ پلاوي سره په ارګ کې وکتل.ارګ په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې په دې کتنه کې د اقتصاد، کانونو او پټرولیم او ټولګټو چارو وزیرانو د ټرانسپورټ او هوايي چلند او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو مرستیالانو او د افغانستان بانک عمومي ریاست سرپرست هم شتون درلود. ښاغلي برادر اخوند په دغې کتنه کې یاد پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د هغوی سفر یې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي، سوداګریزو او سیاسي اړیکو د پیاوړتیا لپاره مهم یاد کړ.

په ورته وخت کې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال وویل چې قزاقستان په مرکزي اسیا کې یو پیاوړی هیواد دی او لېوالتیا لري، چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې خپلې اړیکې پراخې او پیاوړې کړي.

نوموړي وویل: په نړیوال ډګر کې قزاقستان د افغانستان ملګری دی او د افغانستان په اړه پالیسي یې د اقتصادي، سوداګریزو او ټرانزیټي اړیکو د پراختیا او مثبت تعامل پر اساس ده او د افغانستان اسلامي امارت پرې حساب کولای شي.

د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال په افغانستان کې امنیت او ثبات ته په اشارې زیاته کړه: دا په مختلفو برخو کې د ګډو پروژو د تطبیق لپاره یو ښه فرصت دی او په کار ده، چې دواړه لوري ترې اعظمي استفاده وکړي.

محترم مورات نورتلیو وویل: د قزاقستان د لومړي وزیر په لارښوونه یاد پلاوي کې د ټولو سکتوري وزارتونو استازي شامل دي، ترڅو له افغانستان سره په تفاهم تخنیکي بحثونو ته دوام ورکړي.

د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال وویل: هیواد یې له افغانستان سره ګډ کلتوري، اقتصادي او اسلامي مشترکات لري او د تاریخ په اوږدو کې یې له افغانستان سره اړیکي دوستانه او ښې پاتې شوې دي.

ده زیاته کړه: «زموږ سفر باید د ټولو هیوادونو لپاره یو ښه زېګنال وي، ترڅو له افغانستان سره د تقابل پر ځای د تعامل لاره انتخاب کړي. تل زموږ ټینګار پر همدې دی چې افغانستان باید د نړیوالو پروژو او غونډو برخه وي. موږ له اسلامي امارت سره په روښانه او واضح تعامل مخکې ځو.»

نوموړي زیاته کړه: د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري په دې غونډه کې ټول مطرح شوي وړاندیزونه به له اړوندو ادارو سره شریک کړي، ترڅو راتلونکو اقداماتو ته یوه روښانه لارنقشه جوړه شي او هېواد یې د تحصیلاتو، برښنا، ریل پټلۍ، کانونو او نورو ټولو برخو کې له افغانستان سره دوامداره همکاري کولای شي.

وروسته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: څلور کاله وړاندې په افغانستان کې د تاریخي تحول له رامنځته کېدو وروسته اوس موږ له ټولو هیوادونو سره د ثبات، امنیت او متقابلو ګټو اقتصادي همکاریو نوی فصل پیل کړی دی.

محترم ملا برادر اخوند د قزاقستان د هغې لېوالتیا هرکلی وکړ، چې له مخې یې یاد هیواد د هرات تورغونډۍ رېل پټلۍ پر مهمې پروژې پانګونه کوي او زیاته یې کړه: دا نه یوازې د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا لپاره مهم ګام دی، بلکې د ټرانزیټ او سوداګرۍ لپاره هم یو مهم پرمختګ بلل کېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل: افغانستان کولای شي د یوه مؤثر ټرانزیټي دهلېز په توګه قزاقستان ته دا زمینه برابره کړي، چې خپله انرژي د افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته ولېږدوي.

محترم ملا برادر اخوند په ټولو برخو کې د قزاقستان لېوالتیا ته په اشارې زیاته کړه: دواړه هېوادونه کولای شي د کانونو، ټرانسپورټ، مخابراتو، انرژۍ تولید، نفت او ګازو پروژو کې ګډ کار وکړي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له قزاقستان سره د کرنیزو توکو د ساتنې او قرنطین لپاره د هوکړه لیک لاسلیک ته چمتووالی وښود او د ازادۍ بانک او زمان بانک لپاره یې پخپلو بانکونو کې د حساب پرانیستو، د شریکې سوداګرۍ لپاره له ملي پولي واحدونو څخه د استفادې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال حمل او نقل او ټرانسپورټ په اړه د موافقتنامې د مسودې نهایي کولو، په صنعتي، سوداګریزو او ټرانسپورټي برخو کې د همکاریو زیاتوالي، په افغانستان او قزاقستان کې د توکو د پلورلو لپاره د شریکو مرکزونو جوړولو او له افغانستان څخه د ټرانزیټي توکو د فیس کمولو وړاندیزونه او معلومات شریک کړل.

د دې لیدنې په پای کې، د افغانستان اسلامي امارت د ټولګټو چارو وزیر له خپل قزاقي سیال سره د هرات تور غونډۍ رېل پټلۍ تفاهم لیک لاسلیک کړ.

له روسیې سره د ډیپلوماتیکو تعاملاتو په اړه د ځینو ناسمو برداشتونو او تحلیلونو ځواب

رحمت‌الله فیضان

اسلامي امارت د خپلې بهرنۍ پالیسۍ په چوکاټ کې، چې پر ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام، د هېوادونو په کورنیو چارو کې د نه مداخلې او له سیمه ییزو او نړیوالو لوریو سره د متوازن تعامل پر اصولو ولاړه ده، هر ډول دوه‌اړخیز تعامل، په ځانګړي ډول د سیاسي استازو منل، د ملي ګټو، د مشروعو نړیوالو اړیکو د ټینګښت او د افغانستان د بهرنیو ننګونو د حل په لور یو مثبت ګام بولي.

په مسکو کې د اسلامي امارت د استازي منل نه یو سیاسي مانور دی او نه هم قمار؛ بلکې دا د دوو خپلواکو هېوادونو ترمنځ د طبیعي ډیپلوماتیک تعامل یوه سمه او پر ځای پرېکړه ده. د اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره پر توازن، واقع‌ګرايي، ملي عزت او نه‌وابستګي ولاړه ده او هېڅ هېواد یا ډله نه شي کولای چې د پخوانیو ذهنیتونو پر اساس، د اسلامي امارت نوي تعاملات تر پوښتنې لاندې راولي.

موږ له تېر تاریخ څخه خبر یو، خو په تېر کې بند پاتې نه یو. د افغانستان ملت د نړیوالو سیالیو قرباني شوی، په ځانګړي ډول د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پر مهال او د هغه وخت دردونه لا هم د افغانانو په حافظه کې ژوندي دي، خو اسلامي امارت اوس پر راتلونکي تمرکز لري.

له روسیې سره اړیکې، لکه له نورو هېوادونو سره، د افغان ملت د ګټو پر بنسټ تنظیمېږي. د روسیې له لورې د اسلامي امارت د سفیر منل، د افغانستان د نویو واقعیتونو منل او د دواړو هېوادونو ترمنځ د نوي فصل پیل ګڼل کېږي. دا تعامل نه د پخوانیو جنایتونو هېرول دي او نه هم د اصولو بدلون، بلکې دا د سیاسي پوخوالي او عقلاني تعامل یوه مظاهره ده.

هغه بدبینانه او غیرمسئولانه ادبیات چې هڅه کوي زموږ ډیپلوماتیک تعاملات تخریب کړي او تاریخي احساسات راوپاروي، د ناکامو ذهنیتونو پایله ده. نننی اسلامي امارت د افغان مسلمان ملت اراده تمثیلوي او خپل مشروعیت له همدې ملت څخه اخلي، نه د بهرنیانو له تأیید یا رد څخه.

پخوا نۍ دښمنۍ د نن د تعامل مخه نه شي نیولای. ډېر هېوادونه چې په معاصر تاریخ کې یې افغانستان ته منفي نظر درلود، اوس له نوې لیدلوري سره د تعامل غوښتونکي دي. امارت هم دا تعامل د هوښیارۍ، خپلواک فکر او د «ملت د ګټو او شرعي اصولو» پر بنسټ تنظیموي.

د رسمیت پېژندنې موضوع، که پېژندل شوي یو که نه، د امارت پر اراده او د ملت د خدمت پر تصمیم هېڅ اغېزه نه لري. موږ دا ثابته کړې چې پرته له بهرنیو مرستو هم یو اسلامي، خپلواک او باثباته هېواد اداره کېدای شي، خو له نړۍ سره د مثبت تعامل هرکلی کوو، مشروط پر متقابل احترام.

په پای کې، زموږ باور دا دی چې نننی افغانستان نور د رقابتونو او نیابتي جګړو میدان نه دی. هغه کسان چې لا هم د سړې جګړې له زاویې نړۍ ته ګوري او هڅه کوي تېرې ناخوالې راژوندۍ کړي، نه د افغان ملت خیر غواړي، نه د هېواد عزت. نننی افغانستان د سالمو، رغوونکو او له انتقامجویو ذهنیتونو څخه د پاکو اړیکو غوښتونکی دی.

مـــراکــز و مـــراجـــع درمـــانـــی را دریـــابیـــد

ضربی

تجارت در جهان امروز به شیوه ها و بستر های مختلفی صورت می گیرد، اما در برخی از حالات، شماری از اشخاص به عنوان طبیب (داکتر) به حیات همنوع خود نیز تجارت می کند و از این مسیر صاحب نان ونشانی هم شده اند . زیانبار تر از آن تجار ویا بازرگانی است که دست به تقلب و احتکار مواد اولیه می زند، زیرا مریض و مریضدار در وضعیتی قرار می داشته باشند که همه فکر و ذهن شان، پیرامون صحت یابی مریض شان است، پیش از اینکه به نرخ و ترفند مرکز درمان ویا طبیب فکر کنند .

این مسئله اظهرمن الشمس است که اگر شخصی با اندک مریضی به یکی از مراکز درمان خصوصی مراجعه کند، بدون اینکه با مریض و مریضدار پیرامون تکلیف مریض مشوره صورت گیرد ، در نخستین اقدام ، مریض را سرتا پا معاینه می کنند که این عملکرد دست اندرکاران مرکز درمان، آن هم در شرایطی که مردم ما در وضعیت نه چندان خوب اقتصادی قرار دارند، نگران کننده و در عین حال زیانبار و تجارتی است، که نه از نظر قوانین شرعی و نه هم از نظر قوانین مدنی، جواز و معیار دارد، بلکه تجارتیست غیر اصولی و بازی است به حیات انسان ها .

بناءً اگر مریضدار بخاطر صرفه‌جویی به کلینیک خصوصی و یا مراکز بزرگ درمانی مراجعه نکند و به معاینه خانه طبیب (داکتر) مراجعه نماید، جناب داکتر صاحب بزرگوار، بعد از معاینه، نسخه ای را ترتیب می دهد که خوانش آن نسخه، مهارت خاصی می خواهد، زیرا داکتر صاحب از خود دواخانه مخصوص بوده و یا هم رابطه تجاری به آنان دارد که باید آن عده از طبیبان و مراکز درمان خصوصی، پیش از اینکه به فکر جیب خود باشند، بهتر است که به فکر صحتمندی مریض باشند، زیرا اگر با مریضان دلسوزانه و در عین حال با مسئولیت پذیری تمام برخورد شود و از مدارا و انصاف کار گیرند، دیگر نیازی نیست که مریضان خود را ، برای درمان به کشور های بیرونی ببریم.

روی این اساس وزارت صحت عامه باید به این معضل منحیث مرجع مسئول توجه کند، هرچند که هر از گاهی موظفین وزارت صحت عامه از این مراکز و معاینه خانه های داکتران و دواخانه های شهر نظارت و کنترول می کنند، اما نظر به پیچیدگی و نیاز مندی شهروندان ما به داکتر و مراکز درمانی ، باید از پول نسخه، قیمت و تاریخ دارو ها، همچنان پول معاینات لابراتوار ها و در کل از اضافه ستانی ها، کنترول و نظارت نمایند .

غزني؛ په ناهور کې ...

په شفاف ډول پلې شي. بله‌خوا، د پیروزي شرکت مسئولینو ژمنه وکړه، چې دغه پروژه به د ټولو تخنیکي معیارونو او حقوقي اصولو مطابق پر مخ بوزي او ټول هغه چاپېریالي او ټولنیز اصول به رعایت کړي، چې د حکومت له خوا ورته سپارل شوي دي. د ناهور د ګچ کان د کیندنې پروژه د غزني په اقتصادي نقشه کې یوه مهمه پانګونه بلل کېږي، چې تمه ده د سیمې اوسېدونکو ته به د کار ترڅنګ د ژوندانه اسانتیاوې هم برابرې کړي.

بلخ؛ د صنعتي پارکونو ...

دولتي ادارو په ګډو رسمي مراسمو کې د همغږۍ، صنعتي پرمختګ او د ځوانانو لپاره د کار د زمینو برابرولو باندې ټینګار وکړ. ښاغلي متقي زیاته کړه، چې دا مهال د یادې ځمکې د وېشلو تخنیکي چارې رواني دي، تر څو پانګوال ته په شفاف ډول ورسېږي.

اشغالګر رژیم ...

د غزې دیرالبلاح کې د اولادونو لپاره د ډوډۍ پیدا کولو په تمه د ښځو او میندو کتارونه په نښه کول د جنایت او نسل وژنې کمپاین دی. یاد غورځنګ له نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او له عربي او اسلامي نړۍ غوښتي، چې د نسل وژنې د درېدو لپاره دې جدي او فوري اقدام وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې غزه کې د مرستو د وېش پر مرکزونو د اشغالګرو په بریدونو کې د وږیو فلسطیني وګړو د شهیدانو شمېر نږدې ۸۰۰ او د ټپیانو شمېر له ۵زره اوښتی.

د یتیمانو پر شونډو ...

د اړوند وزارت دغه کار وستایه او مننه یې ورڅخه وکړه، چې هر وخت په علمي او تفریحي برخه کې یتیمانو ته اړینه پاملرنه کوي. د یادونې وړ ده چې «خاتم‌الانبیاء» دارالایتام له ۱۴۴۱هـ.ق کال راهیسې د پکتیا په زرمت ولسوالۍ کې د الحاج ملا عبداللطیف منصور له لوري جوړ شوی، څو د هغو شهیدانو یتیمان چې د دین او وطن په لاره کې یې سرونه قربان کړي، له علم او تربیې څخه برخمن شي. دا مهال په دغه مرکز کې له ۱۶۰ زیات زده‌کوونکي پر زده‌کړو بوخت دي.

د مېرمنو د حقونو ...

د ټولنیز عدالت د تأمین او د خرافاتو د مخنیوي په موخه په کندز، جوزجان، نیمروز او بدخشان ولایتونو کې شپږ ماهر کوډګر نیول شوي او د شرعي پرېکړې په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته ور پېژندل شوي دي. د دې تر څنګ محتسبینو په بازارونو کې د سود، احتکار، په ترازو کې د کموالي او بې کیفیته او تاریخ تېرو موادو د خرڅلاو د مخنیوي په موخه په ډېرو ولایتونو کې له سوداګرو او هتیوالو سره ۲۵ اصلاحي ناستې کړې او لسګونه کیلو ګرامه تاریخ تېر توکي یې له منځه وړي دي. همدارنګه د عامه ذهنیت د سمون او په ټولنه کې د ناوړو دودونو د مخنیوي په موخه له دیني عالمانو، قومي مخورو او ځوانانو سره ۱۲۰ اصلاحي ناستې شوې دي.

سږکال حاجیان له خدمتونو ...

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال مولوي حیات الله مهاجر فراهي، د کورنیو چارو وزارت مرستیال مولوي محمد نبي عمري، د وزارت مرستیالانو، د مرکزي ریاستونو رئیسانو، د اریانا افغان او کام ایر هوايي شرکتونو استازو، د کابل نړیوال هوايي ډګر مسئولینو او حاجیانو ګډون کړی وو. د ارشاد، حج او اوقافو وزیر سرمحقق دکتور نور محمد ثاقب وویل، چې سږ کال د الله ﷻ په نصرت سره موږ وکولای شول چې له افغانستان څخه پوره ۳۰ زره حاجیان د اریانا افغان او کام ایر هوايي شرکتونو په ۹۷ پروازونو کې د حج مناسکو د اداء کولو لپاره سعودي عربستان ته انتقال کړو، د حج مناسکو له بشپړېدو وروسته د افغان حاجیانو د بیرته راستنیدو لړۍ پیل شوه چې ټول افغان حاجیان په خیر او عافیت سره بیرته خپل هېواد ته را انتقال شول. ښاغلي ثاقب زیاته کړه، چې دا له افغان حاجیانو سره یو خاص الهی نصرت او پیرزوینه وه چې دوی په پوره توګه حرمینو شریفینو ته انتقال شول او د حج سعادت یې په برخه شو. حال داچې ځینو نورو هېوادونو دا ونه کړای شول چې خپل ټول حاجیان انتقال کړي، نوموړي وویل: الحمدلله سږ کال د افغانستان حاجیانو ته په مکه مکرمه او مدینه منوره کې د هستوګنځایونو، ټرانسپورټ، خوړو، روغتیا او نورو برخو کې د وزارت له لوري غوره او په زړه پورې خدمتونه برابر شوي وو، ترڅو حاجیان و کولای شي چې په ښه او ارامه فضاء کې خپل مناسک ترسره کړي. ده وویل، چې سږکال د حج په موسم کې د ځینو ناروغیو، زیات عمر او ټرافیکي پېښو له امله ۱۸ تنه افغان حاجیان وفات شوي دي، چې دا شمېره د تېرو کلونو په پرتله او دغه راز د نورو هېوادونو په نسبت ډېره کمه ده. نوموړي وویل، چې سږ کال حاجیان له خدمتونو راضي او خوښ وو، هڅه کېږي چې په راتلونکو کلونو کې د لا غوره خدمتونو د وړاندې کولو زمینه ورته برابره کړو. ده د آریانا افغان او کام ایر هوايي شرکتونو، اړوندو اماراتي ادارو او د سعودي عربستان له شاهي دولت څخه ځانګړې مننه وکړه، چې افغان حاجیانو ته یې د غوره اسانتیاوو په برابرولو کې همکاري کړې ده.

د کورنیو چارو وزارت مرستیال مولوي محمد نبي عمري ویلي، چې د کورنیو چارو وزارت د افغان حاجیانو د امنیت په برخه کې همېشه خپلې هڅې جاري ساتلي دي او په ټولو ولایاتو کې افغان حاجیان په خوندي توګه خپلو کورونو ته ستانه شوي دي. یو تن حاجي محمد ګل مخلص وویل: ډېر د خوښۍ ځای دی چې افغان حاجیان د حج فریضې له اداء کولو وروسته خپل هېواد ته په خیر او عافیت سره راستانه شول.

ښاغلي مخلص زیاته کړه: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له رهبرۍ څخه مننه کوو چې په بشپړ اخلاص او ژمنتیا سره یې د اړوندو ادارو په همغږۍ د هېواد دننه او په سعودي عربستان کې د افغان حاجیانو لپاره ښې اسانتیاوې رامنځته کړې وې او په راتلونکي کې د لا ښو خدماتو غوښتونکي یو.

سمیع الله مومند

افغان اعلانات

موضوع: اعلان
دعوت به داوطلبی

وزارت فواید عامه، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی) پروژه ترمیم و جغل اندازی شاهراه بامیان – سرپل قسمت اول (فرش سرک ، پلچک و دیوار استنادی) از دوراهی زارین ولسوالی یکه ولنگ الی ختم بازار ولسوالی یکه ولنگ نمبر ۲ (اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور ساختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۰ :۰۹ قبل از ظهر) مؤرخ (۱٤۰٤/۰٤/۲۸) به ریاست تدارکات، وزارت فواید عامه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت گرنتی بانک مبلغ (۸۰۰،۰۰۰) هشت صد هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشائی به تاریخ (۱٤۰٤/۰٤/۲۸) ساعت (۰۰ :۰۹ قبل از ظهر) در تالار جلسات ریاست دفتر منزل سوم تعمیر وزارت فواید عامه تدویر میگردد.

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت غلام سرور لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۱۶۷۹-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نور خطاب فرزند سنگر بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۸۲

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت برادران جمشیدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۹۷۷۵- ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای فرزاد فرزند محمد رحیم بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۸۹

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سید مسعود هاشمی فرزند سید رجب علی هاشمی دارنده تذکره نمبر (۵۳۹۶۲-۰۸۰۱- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه فیصل حبیب واقع ناحیه چهارم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم فرید خان قریشی فرزند خان آغا قریشی ولدیت خان زاده دارنده تذکره شماره (۸۸۶۹۴- ۱۲۰۶- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۳۱۹

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات رهگشاه به اسم محترم احمدزی فرزند غلام فاروق ولدیت غلام ایشان واقع سرک آقا سرای ولسوالی کلکان ولایت کابل موقعیت دارد و میخواهد به ساحه بازار قره باغ ولسوالی بازار قره باغ ولایت کابل شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۳۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم یاد الله فرزند عادل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحیم الله فرزند حبیب الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اکبر فرزند محرم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ظابط شاه فرزند محمد الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۵۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صمیم امیری فرزند فتح محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید سلطانه امیری بنت سید محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۳۵۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد علی خیرخواه فرزند سلطان علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد شرین جمالی فرزند جمال الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۱۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسنا بنت زرگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد تقی حسینی فرزند محمد ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جواد محمدی فرزند حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد علی نوری فرزند اسد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فتح محمد امیری فرزند امیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۱۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله امرخیل فرزند سمیع الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزت الله فرزند عبدالباقی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم انځرگل حقانی فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اجرگل اعظم فرزند حاجی شیر عظم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسرار صافی فرزند سیف الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد یحیی تیموری فرزند حسن رضا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمن الله اسحاس فرزند عمرالدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۴۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله فرزند گل ولی جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نورپادشاه فرزند احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نبی جان فرزند بهای جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۴۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل محمد خاکسار فرزند سید محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زرغونه امینی بنت محمد یعقوب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالکریم عیسی فرزند محمد شاه خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فوزیه سید زاده بنت آقا شیرین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جواد رستمی فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد صافی فرزند ولی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی سینا طاهری فرزند محمد عیسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید جمال حسینی فرزند سید مبارک مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید الله امیری فرزند طاهر حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نظیر محمد فرزند گل محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمعروف ولیزاده فرزند محمد طاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم افضل خان امیری فرزند مولا داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صبر گله جان خیل فرزند جلات خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمشید نوراحمدی فرزند ضیا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۴

وضعیت مهاجرین کاملاً ...

وی افزود که کمیته ای کمک های نقدی برای هرفرد عودت کننده مبلغ ۲هزار افغانی کمک کرده، کمیته اجاره دهی زمین تصمیم دارد، زمین های حکومتی را برای مهاجرین به قیمت مناسب به اجاره داده تا در آن کار و فعالیت نمایند و به همین ترتیب کمیته اسکان دایمی برای هر فرد مستحق که درکشور زمین نداشته باشد یک نمره زمین در ولایت مربوطه شان توزیع خواهد کرد. آقای حنفی یادآوری کرد که ۳۵شهرک در ۲۵ولایت افغانستان برای مهاجرین عودت کننده سروی شده است و در ۱۴۰هزار جریب زمین شهرک دایمی درنظر گرفته شده و این رقم بیشتر خواهد شد. وی از مالکین شرکت هایی که در خارج افغانستان سرمایه گذاری کرده اند میخواهد که این سرمایه خویش را به وطن انتقال دهند و اطمینان داده گفت که تا پنج سال از مالیات معاف می باشند و همچنان در پارک‌های صنعتی زمین رایگان برای شان داده می شود. معاون اداری ریاست الوزراء تاکید کرد: پیامم برای کشورهای همسایه که مهاجرین ما را بصورت اجباری اخراج میکنند این است، باید با مراعات کردن حقوق انسانی و اسلامی که دارند، به تدریج و تفاهم هر دو کشور عمل کنند.

محمد رفیع تیموری

د تورغونډۍ ـ هرات ...

په حال کې وبللي او ویلي یې دي چې اسلامي امارت له قزاقستان سره د هغو همکاریو د پراخېدو لپاره کار کوي کوم چې د افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لامل ګرځي.د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال قزاقي لوري ته ډاډ ورکړ چې افغانستان کولای شي د یوه مؤثر ټرانزیټي دهلېز په توګه، قزاقستان ته دا زمینه برابره کړي چې خپله انرژي د افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته ولېږدوي. ملا برادر د دواړو هېوادونو ترمنځ له موجودو فرصتونو د ښې استفادې په اړه وویل چې دواړه لوري کولی شي د کانونو، ټرانسپورټ، مخابراتو، انرژۍ تولید، نفتو او ګازو او بنسټیزو پروژو په برخه کې ګډ کار وکړي.همدا رنګه د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د وسپنې پټلۍ له لارې د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال حمل او نقل او ټرانسپورټ په اړه د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان ترمنځ په صنعتي، سوداګریز او ټرانسپورټي ډګر کې پر ګډې همکارۍ، په دواړو هېوادونو کې د لویو سوداګریزو مرکزونو پر پرانیستلو او د ټرانزیټي فیسونو پر کموالي بحث شوی چې په تطبیق سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه درې میلیاردو ډالرو ته ورسېږي. د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر هم په خپلو خبرو کې ویلي چې دوی په نړیوال سټېج له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي او ویني چې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د ګډو همکاریو او نږدې کار کولو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده .ده زیاته کړې چې قزاقستان چمتو دی د هرات – تورغونډۍ وسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت پانګونه پیل کړي.مرات نورتلیف دغه راز افغانستان ته د برښنا د وارداتو د زیاتوالي، د قزاقستان بازارونو ته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د انتقال او د قزاقستان په ازادي او زمان بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانیستلو ته له خپل لوري چمتووالی څرګند کړی دی. ورته مهال، د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات – تورغونډۍ وسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له پانګونې هرکلی کړی او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټ او سوداګرۍ کچې د زیاتېدو لپاره مهم ګام یاد کړی دی. په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ د هرات – تورغونډۍ وسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت د پانګونې د پیل په موخه هوکړه لیک هم لاسلیک شوی دی. باختر

د بهرنیو چارو وزیر له خپل ...

څخه د اطمینان څرګندولو ترڅنګ ویلي چې اراده لري له افغانستان سره سیاسي اړیکو او اقتصادي او علمي همکاریو ته پراختیا ورکړي.

ده ټینګار کړی،چې قزاقستان غواړي په اوږد مهال کې د افغانستان په ثبات، ټرانزیټ، د خوړو امنیت او په ټوله کې په هر اړخیز پرمختګ کې مثبت رول ولوبوي. د کتنې په پای کې دواړو لورو د تورغونډۍ – هرات د وسپنې پټلۍ په برخه کې پر لاسلیک شوي هوکړې خوښي څرګنده کړې او د تخنیکي ټیمونو ترمنځ د دوامداره ګډ کار پر دوام یې هوکړه کړې ده. د یادونې وړ ده، د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر چې د هغه هېواد د لومړي وزیر مرستیال هم دی، له دې وړاندې د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند سره هم کتنه درلوده.

مسکو له اسلامي امارت ...

ورته وخت کې د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد وایي: د سیمې له هېوادونو په ځانګړې توګه له روسیې سره د اړیکو پراختیا د افغانستان لپاره مهمه ده او حکومت هڅه کوي، چې دغه اړیکې نورې هم پراخې شي. ده وویل: افغانستان اقتصادي همکاریو ته اړتیا لري او روسیه کولی شي دغې برخه کې مهم رول ولوبوي. «افغانستان په اقتصادي، د پانګونې او نورو برخو کې همکاریو ته اړتیا لري، روسیه کولای شي چې دې برخو کې مرسته وکړي او افغانستان هم د اړتیا له مخې، روسیې سره اړیکې مهمې بولي.» د چارو یوشمېر کارپوهان د کابل او مسکو ترمنځ د اړیکو پراختیا مهمه بولي او وایي: د سیمه‌ییز امنیت په څېر مهم مسایل کولی شي له روسیې سره د افغانستان د اړیکو د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي. دوی وویل: له روسیې سره د افغانستان د اړیکو پراختیا کولی شي، له نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د نږدې کېدو لامل شي. د نړیوالو اړیکو کارپوه محمد اکرم عارفي وایي: «افغانستان کولی شي د امنیت، اقتصاد او ټکنالوژۍ له پلوه له روسیې سره نږدې اړیکې جوړې کړي او هغه ګډ ټکي چې شتون لري، لکه امنیتي مسئلې، د دواړو هېوادونو په ګټه دي. له بلې‌خوا، روسیه، د پرمختللې ټکنالوژۍ لرونکي هېواد په توګه کولی شي د افغانستان په بیارغونه کې مهم رول ولوبوي.» روسیه په سیمه کې له ځواکمنو هېوادونو شمېرل کېږي او لومړنی هېواد دی چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده.

حکومت د ۱۷ سکټورونو غوره ...

جدي پاملرنه وکړي، روڼتیا او سالم رقابت رامنځته کړي، په نړیوالو بازارونو کې مخکښ واوسي، د پېرودونکو رضایت د خپل فعالیت محور وګرځوي، د صادراتو بهیر د ښه والي په اړه خپلې اغېزمنې طرحې وړاندې کړي او له نویو سوداګریزو لارو چارو څخه دې ګټه واخلي.دغه راز د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین مولوي احمدالله زاهد وویل: د اسلامي امارت په بیاواکمنۍ سره د صنعت د ودې او د تولیداتو او صادراتو د زیاتوالي په لاره کې کوټلي ګامونه اخیستل شوي او هڅې شوې چې افغانستان له یوه وارداتي هېواده په صادراتي هېواد بدل شي.

ده ډاډ ورکړ چې اوس مهال په افغانستان کې د پانګونې او سوداګرۍ پر وړاندې ټول خنډونه لرې شوي او په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره او لازمې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت معین پر ټولو پانګوالو غږ وکړ، چې را دې شي او په افغانستان کې دې پانګونه وکړي. همدا رنګه، د کار او ټولنیزو چارو وزیر مولوي عبدالمنان عمري، صادرات د هېوادونو کلیدي او د پرمختګ له ټولو مهمه وسیله وبلله او ویې ویل چې د افغانستان د وارداتو پرځای د صادراتو کچې د لوړولو لپاره باید ډېرې هڅې وشي او په تولیداتو او محصولاتو کې کیفیت او معیار ته ډېره پاملرنه وشي.

عمري، د پانګونې له لارې خلکو ته د کارې فرصتونو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ او له پانګوالو او صنعت‌کارانو څخه یې وغوښتل، چې په دې برخه کې د هېواد او هېوادوالو پر وړاندې خپل مسئولیت ترسره کړي.

د مراسمو په دوام، د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث نورالحق انور وویل چې افغانستان په کلونو یو وارداتي هېواد پاتې شوی، خو اوس مهال هېواد ښه فرصتونه او ډېر امکانات لري؛ د ځان بسیاینې لپاره هڅې پیل شوي او پر صادراتي هېواد د افغانستان د بدلېدو هیلې ډېرې شوې دي.

د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر هم، د هېواد په اقتصادي وده کې د صادراتو رول مهم وباله او ویې ویل چې د دغه وزارت له لوري، له کانونو پرته د هېواد د ټولو صادراتي توکو محصول معاف شوی او د هېواد په ټولو ګمرکونو کې سوداګرو ته اړینې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

ورته مهال، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو سازمان د سرمنشي ځانګړې استازې او د «یوناما» مشرې روزا اوتنبایوا، د افغانستان صادروونکي د دغه هېواد د اقتصادي ودې اتلان وبلل او ویې ویل چې د منځنۍ اسیا هېوادونه د افغانستان د تولیداتو او محصولاتو لپاره له ټولو ښه بازارونه دي.

همدا رنګه، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې لومړي مرستیال محمد یونس مومند او د افغانستان د کانونو او صنایعو خونې رئیس شېرباز کمین‌زاده د هېواد د خصوصي سکټور په استازیتوب په خپلو خبرو کې وویل چې د اسلامي امارت په راتګ سره سراسري امنیت تامین شوی، اداري فساد نشته او کورنیو او بهرنیو سوداګرو او پانګوالو ته لازمې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

دوی، د خصوصي سکټور یو لړ ستونزې او وړاندیزونه هم شریک کړل او ډاډ یې ورکړ چې دغه سکټور د هېواد د اقتصادي ودې، ځان بسیاینې او هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابرولو په لاره کې د اسلامي امارت ترڅنګ ولاړ دی او کلک ملاتړ یې کوي.

د مراسمو په پای کې، د مسئولینو له لوري د تندیس او ستاینې لوحو په ورکولو سره، د ۱۴۰۳ لمریز کال د ډېرو سکرو، پنبې او نوشابې په ګډون د ۱۷ سکټورونو غوره صادروونکي وستایل شول.

د یادونې وړ ده چې د ثور ۲۰مه د صادراتو ملي ورځې په توګه د هېواد په رسمي کلیزه کې ثبت شوې ده او دا ورځ هر کال د صادروونکو د هڅولو په موخه په هېواد کې لمانځل کېږي.

د امنیتي او تصفیوي چارو ...

او مسئولانه ډول وپالل شي. همدارنګه د کمېسیون غړو اړوندو امنیتي ادارو ته سپارښتنه وکړه، چې د راستنېدونکو افغانانو د راتګ پر مهال دوی ته هر اړخیز امنیت او اړینې اسانتیاوې برابرې کړي، ترڅو دوی له هر ډول ستونزو او خنډ پرته خپل هېواد ته په خوندي ډول راستانه شي.

د افغان کډوالو ...

له چارواکو سره د راستنېدونکو افغانانو د ستونزو د حل په موخه دوه اړخیزې کمیټې جوړې شوې او تر دې مهاله یې ګڼې ستونزې هوارې کړې دي .نوموړي زیاته کړه، چې د ایران د اسلامي جمهوري دولت له لوري د راستنېدونکو افغانانو پر ویزو جریمه معاف شوې او د وسایلو او توکو پر لېږد یې ګمرکي تعرفې لغوه شوې دي.همدارنګه علي رضا بیګدلي وویل: د یوې طرحې له مخې به د اسلامي امارت سفارت او ایراني لور افغانانو ته د خپلو پیسو د لاسرسي زمینه برابره کړي. نوموړي زیاته کړه، چې ډېر افغانان په خپله خوښه له ایران څخه راستانه شوي دي. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر له اسرائیلو سره په جګړه کې د ایراني چارواکو د شهادت په هکله تسلیت ووایه او د هغوي روح ته یې دعا وکړه. مولوي عبدالکبیر وویل، چې په تېرو څو لسیزو کې ایران د میلیونونو افغانانو کوربتوب کړی او نه باید د کډوالو موضوع د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې خرابې کړي. نوموړي زیاته کړه، چې له ایراني چارواکو سره د افغان کډوالو د راستنولو په اړه یوه طرحه جوړه شوې وه، خو د وروستیو پېښو له امله نیمګړې پاتې شوې ده.

د عامې روغتیا وزیر ...

او بهرنیو روغتیایي کادرونو ګډون کړی و. مولوي نور جلال جلالي عصبي جراحي د روغتیایي سکټور یوه مهمه برخه بللې او ویلي یې دي، چې د عامې روغتیا وزارت به په نږدې راتلونکې کې د زده‌کړو د تعقیب په موخه یو شمېر افغان کادرونه بېلا بېلو هېوادونو ته ولېږي. نوموړي زیاته کړې: عصبي جراحي یوه تخصصي څانګه ده، چې په افغانستان کې زیاته اړتیا ورته لیدل کېږي او دا برخه باید نوره هم غني شي، څېړنې او تحقیقات پکې وشي، له نړیوالو تجربو څخه ګټه واخیستل شي او هغه عصري مېتودونه، چې په پرمختللې نړۍ کې ترې ګټه اخیستل کېږي، افغانستان کې هم ورته زمینه برابره شي. ښاغلي جلالي له هغو افغان روغتیایي کادرونو څخه، چې په بهر کې مېشت دي، هېواد ته د بېرته راستنېدو غوښتنه کړې او ویلي یې دي، چې دا کادرونه هېواد ته په بېرته راستنېدو سره په امارتي او خصوصي روغتونونو کې خپلو هېوادوالو ته د خدمت مصدر ګرځېدلای شي.

بلخ او جوزجان کې ...

ښار اړوند قلعه قل او په اتمه ناحیه کې د څه باندې ۱۱۴۲ جریبه ځمکې دوسیې تر بحث او ارزونې لاندې نیول شوې او تخنیکي هیئت له هر اړخیز بحث څخه وروسته د یادو دوسیو په اړه لازم تصامیم نیولي دي.د یاد وزارت په یوه بله خبرپاڼه کې راغلي، چې د جوزجان د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي تخنیکي هیئت په وروستۍ ناسته کې د فیض آباد ولسوالۍ اړوند په قره اول تپه او قزل کوتل سیمو کې د ۹۷۵ جریبه ځمکې په اړه بحث او خبرې شوې او هیئت پرېکړه کړې، چې د یادې ځمکې په اړه دې املاکي څېړنې ترسره شي. د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې په یاده ناسته کې همدارنګه د جوزجان ولایت د بېلابېلو ساحو د غصب شویو ځمکو اړوند یو شمېر نورې دوسیې هم بررسي شوې او په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

شنبه د محرم الحرام ۱۶ مه ۱۴۴۷ق کال | د چنګاښ ۲۱ مه ۱۴۰۴ ل کال | د 2025م کال د جولای ۱۲ مه

نیمروز کې د راستنېدونکو کډوالو لپاره مجهز کمپ ګټې اخیستو ته وسپارل شو

د نیمروز والي شیخ محمد قاسم خالد پېښنو ته د رسېدو ریاست له لوري د وربښمو پله ته څېرمه کمپ په معیاري ډول له مجهزو کېږدیو څخه جوړ شوی، چې پکې برښـنا، کولر، د څښاک کې هـره کېږدۍ د یوې کورنۍ لپاره ځانګړې شـوې ده. ښاغلي خالـد د دې کمپ جـوړول د اړین خدمـات وړاندې کړي او سـتونزو ته یې رسېدنه وکړي. همدارنګه نوموړي ټولو ولایتي

د راسـتنېدونکو افغان کډوالو لپاره له جوړ شوي کمپ څخه لیدنه وکـړه. د نیمروز ولایت د مقام رسنیز مرکز وایي، چې یاد پاکـې اوبه، سـیار تشـنابونه، حمام، روغتیایي مرکز او نورې لومړنـۍ اړتیـاوې کډوالـو ته برابرې شـوې دي. په یاد کمپ کډوالو سـتونزو د حل لپاره یو مهـم ګام وبالـه او ویـې ویل، چـې د ولایـت مقـام ژمن دی ترڅو راستنېدونکو کډوالو ته ادارو ته سپارښتنه وکړه، چې د کډوالو لپاره د خوړو، څښـاک او نـورو اسـاسي اړتیـاوو په برابرولو کې فعاله ونډه واخلي.

خلیلزاد: د بشري حقونو پلویان د خپل بام واورې د نورو پر بامونو اچوي

په تېر کې د افغانسـتان لپاره د امریـکا ځانګړي اسـتازي زلمي خلیلـزاد د بشري حقونو مدعي هېوادونه ننګولي او په خپلو هېوادونو کې یې له ښځو سره د چلنـد په تړاو پوښـتلي دي.نوموړي پـه خپل اېکس د ملګـرو ملتونو د وروسـتي پرېکړه‌لیـک مدافعانـو تـه پیغور ورکـړی، چې په خپلو هېوادونـو کې یې لـه مېرمنو سره کله هـم عادلانـه چلند نه دی کـړی. نوموړی لیکي، چې افغانستان تازه له جګړې راوتلی، شـتمني یې کنګل ده، له ډله‌ییـزې کډوالۍ سره مخ

دی او له لاسـنیوي پرته له لا ډېرو بندیزونـو سره مخ دی. یاده دې شي چې ښاغلي خلیلزاد د ملګـرو ملتونـو وروسـتی پرېکړه‌لیـک نامعقـول او شرمناک بللی دی.

د یتیمانو پر شونډو د موسکا شېبې

د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر، الحاج مـلا عبداللطیف منصور، پرون د خاتم‌الانبیاء دارالایتام له شاوخوا ۸۰ تنو زده‌کوونکو سره د کابل ښـار حبیب‌اللـه ځاځي تفرېحي پـارک تـه د تفریح په موخه سـفر وکړ. نوموړي دغه سـفر د خوښـۍ، همـدردۍ او انساني مسـئولیت یوه مهمه نمونه وبلله او ویې ویل: له یتیمانو سره مینه، مرسـته او د دوی لاسنیوی زموږ دینـي، انسـاني او وجداني وجیبـه ده، باید هر څوک د خپل توان مطابق د دغو ماشـومانو تر څنـګ ودرېـږي. همدارنګه د دارالایتام ناظم، مولوي عبدالباري احمد، دغه انساني اقدام وستایه او ویې ویل، چـې دا ډول فعالیتونه، نه یوازې د یتیمانو پر روحیه مثبته اغېزه کوي، بلکې د دوی د علمي او تفرېحـي پرمختـګ لپاره هم ارزښتناک ګامونه دي. ورته مهال له خاتم‌الانبیـاء دارالایتام څخه راغلو زده کوونکو

... ۲مخ

د هرات او غور والیانو د خلکو ستونزې د کانونو او پټرولیم له وزیر سره شریکې کړې

د کانونـو او پټرولیـم وزیر ملا هدایت الله بـدري، د هرات له والي شیخ نور احمد اسلام جار او د غور له والي مولوي حیات الله مبارک سره کتـلي دي. د کانونو او پټرولیـم وزارت پـه خپـره شـوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې د یـادو ولایتونو د کاني زېرمـو د مدیریت، معیاري اسـتخراج، د کانونـو په پروژو کې خلکو تـه د کاري فرصتونو د برابرولـو، د هېواد پـه د ننه د کاني موادو د پروسـس په برخه کـې د پانګوالـو د هڅولو او د هېواد د کانونو له عوایدو څخه د بنسـتیزو پروژو د تمویل په اړه خبرې شوې دي. دغه راز د هرات او غور والیانو د دغو ولایتونو د خلکو وړاندیزونه او ستونزې د وزارت لـه مشرتابه سره شریکې کړې او ورته د رسېدنې غوښتنه یې کړې ده. د کانونو او پټرولیم وزیر هم د هغوی د وړاندیزونو او سـتونزو د اورېدو ترڅنګ؛ د حل په برخه کـې یې د لازمو همکاریو ژمنه کړې ده.

غزني؛ په ناهور کې د ګچو کان د کیندنې پروژې پرانیسته

د غـزني د ناهـور ولسـوالۍ په ګاومرده سیمه کې د ګچو ډبرې د کان د کیندنـې پـروژه رسـماً پرانیستل شوه.
دا پـروژه د غـزني د کانونـو او پټرولیـم ریاسـت، د ناهور امنیې قوماندانۍ د مسـئولینو، د قراردادي شرکت د استازو، دولتي چارواکو، سـپین ږیرو او سیمه ییزو مشرانـو په حضور کې پیل شـوه . د یاد ولایت د کانونو او پټرولیم رئیـس مولوي حضرت یوسـف صهیب د پرانیستغونډې پر مهال وویل، چـې یاد کان به د «پیروزي شرکـت» له لوري د پنځو کلونو لپاره وکیندل شي او ۵۰ میلیونه افغانۍ پانګونه به په کې وشي. د دې پروژې له برکته به شـاوخوا ۱۲۰ کسانو ته د کار زمینـه برابره شي، چې د بیکارۍ

کچـه بـه راټیټه کـړي. مولوي صهیب دا پروژه د اقتصادي ودې، د عوایدو د لوړوالي او د دولت او ولس ترمنځ د باور د پیاوړتیا لپاره یوه مهمه لاسـته راوړنـه وبلله. نوموړي زیاته کړه، چې د کانونو ریاسـت به له قراردادي شرکت سره هر اړخیزه قانوني همکاري وکړي، تر څو پروژه

... ۲مخ

بلخ؛ د صنعتي پارکونو جوړولو لپاره ۲۰ زره جریبه ځمکه ځانګړې شوه

د بلخ ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاسـت لـه لوري شـاوخوا ۲۰ زره جریبه کرنیزه ځمکـه د صنعتـي پارکونـو د جوړولو په موخـه د صنعت او سـوداګرۍ ریاسـت ته وسپارل شوه.
د بلـخ د صنعت او سـوداګرۍ رئیس قـاري امیرمحمـد متقي ویلي، چې دا اقدام به نه یوازې د کورنیو تولیداتو د پراخېدو لامل شي، بلکې د پانګوالو لپاره به هم د پانګونـې پراخ فرصتونه برابر کړي. نوموړي دغه نوښت د بلخ لپاره یو مهم اقتصادي ګام بللی.
په دې تړاو دواړو

... ۲مخ

د مېرمنو د حقونو په اړوند د ۲۴ قضیو حل

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شـکایتونو اورېدلو وزارت وایي، چې تېره اوونۍ په ټول هېواد کې د محتسبینو له لوري د مېرمنو د حقونو په اړوند ۲۴ قضیې حل شوې دي.په دې قضیو کې د کورني تاوتریخوالي، میراث، اجباري نکاح، مهر او ورته نورې قضیې شـاملې دي . دغه راز د یاد وزارت محتسبینو په هېواد کې د یووالي د رامنځته کولو او د قومي او ژبنیو تعصباتو د مخنیوي په موخه په کابل، خوسـت، ننګرهار، بلخ، هـرات، میدان وردګو، بدخشـان، فاریاب، دایکندي، بادغیس، لوګر، سرپل، کاپیسـا او غـزني ولایتونو کـې درې دښـمنۍ او ۱۲ لویې او وړې شخړې پر دوستۍ بدلې کړې دي. سربېـره پر دې پـه ټولنه کې د معروفاتو د اقامې

... ۲مخ

حماس: اشغالګر رژیم د نړیوالو د سترګو پر وړاندې نسل وژنه زیاته کړې

حـماس جهـادي غورځنګ ویـلي: د نتنیاهو پـه مشرۍ اشـغالګر رژیـم د نړیوالو د سترګو پر وړاندې په ښوونځیو او کوڅو کې د ملکي وګړو د په نښه کولو او په منظم ډول د خلکـو د بېځایه کولو لړۍ چټکه کړې. حماس په خپره کـړې خبرپاڼه کـې لیکلي: د اشغالګرو له لوري

... ۲مخ

د ارشاد حج او اوقافو وزارت:

سږکال حاجیان له خدمتونو خوښ وو

له سـعودي عربسـتان څخه د افغان حاجیانو د بېرته راستنېدو لړۍ چې د حج د مناسـکو له بشپړېدو وروسته په منظم ډول پیل شوې وه، په بریالیتوب سره پای تـه ورسـېده، د دغې لړۍ وروسـتۍ پـرواز وړمه ورځ د آریانا افغـان هوایي شرکت له لـوري تر سره شـو، چې پکې ۱۸۹ تنـه افغـان حاجیان خپل هېواد ته بېرته راستانه شول.
په همـدې موخه د کابل ښـار د مرکـزي زون د حاجیانـو په مجتمع کې له سعودي عربستان څخه هېـواد تـه د حاجیانو د وروسـتي پرواز د رارسېدو په مناسـبت غونډه جوړه شـوې وه. په دې غونډه کې د ارشـاد، حج او اوقافو وزیر دکتور نور محمد ثاقب

... ۲مخ

روسیه: نړېواله جنايي محکمه دوه مخې ده!

د روسـیې د پارلمـان یـو لوړ پوړی چارواکی وایي: نړیوالې جنایي محکمې افغانسـتان کې د لوېدیـځ جنګـي جرمونه له پامه غورځولي دي. د روسـیې فدراسـیون شـورا مرسـتیال کنستانتین کوسـاچوف وایي: د نړیوالې جنایـي محکمې له لوري د اسلامي امارت د مشرانو د نیولو حکم وروسـته له هغې صادر شو، چې روسیې اسلامي امـارت په رسـمیت وپېژانده. دغه روسي چارواکي افغانستان کې د امریکایـي ځواکونو له لوري پر مظلومو افغانانو شویو ظلمونـو ته په اشـارې ویلي: د ماشـومانو او مېرمنو پر وژنه سربېره هلتـه روغتونونه، کلي او ښـوونځي ویجاړ شوي، خو دې محکمې غږ نـه دی پورته کړی.کورسیو رسنۍ د نوموړي لـه قوله لیـکلي: دغـه ادرس افغانسـتان کـې د امریکایـي عسـکرو د شـویو جرمونو په تړاو کومـه پلټنه نه ده کړې او له همدې امله یې دغه محکمه دوه مخې بللې ده.

اعلان داوطلبی وزارت اطلاعات وفرهنگ

موضوع اعلان داوطلبی: پروژه ترمیمات اساسـی دو آبده تاریخی چاه بست و طاق بست ولایت هلمند.
شماره داوطلبی: MOIC/W-5/NCB/1404
آمریـت تـدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ از تمـام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ترمیمات اساسـی دو آبده تاریخی چاه بست و طاق بسـت و ولایت هلمند با شماره داوطلبی MOIC/W-5/NCB/1404 اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را از آمریت تدارکات- مدیریت عمومی تدارکات بدسـت آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۳-۰۵-۱۴۰۴ هجری شمسی به وزارت اطلاعات و فرهنگ واقـع چهارراهی ملک اصغر، ناحیه دوم، روبـروی وزارت امور خارجه، آمریـت تدارکات، مدیریت عمومی تدارکات منزل اول ارائه نمایند و آفرهای ناوقت رسـیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر بصـورت گرنتی بانک مبلـغ (۱۰۰۰۰۰۰) یک میلیون افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۳-۰۵-۱۴۰۴ هجری شمسی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر می گردد.
نوت: آنعده داوطلبانی که پرسش داشته باشند می توانند ۷ روز قبل از ضرب الاجل تسلیمی آفر به آدرس متذکره مراجعه نمایند.